دبیحاب شهادات سلی ساسیتسیم تابرمردم آگاه باشید پیام بسرمبر استقلال...
شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
(٤) صفحه
نمبرمسلسل (١٠٩٤) سال هژدهم - شماره (١٨١) پنجشنبه (١٧) حوت ١٣٧٤ هـ ش (١٧) شوال المکرم ١٤١٦ هـ ق - (٧) مارچ ١٩٩٦ م

دراثر راکت باران شب گذشته برشهرکابل :

چارتن کشته وبیش از پنج باب منزل مسکونی خساره مند گردید

کابل - ١٦ حوت :
مناطق مختلف شهرکابل شب گذشته هدف راکت ها و فیر اسلحه ثقیله قرارگرفت .
براساس راپوررسیده ازکابل طي بیست
ص(٤)

دحزب اسلامی د ارشاد او فرهنگ رئیس او وياند استاد قريب الرحمن «سعيد»

دچمن - تورغنډی دسړک کار باید دیوه قانونی حکومت ترجوړیست پوری ځنډیدلای وای

د سترو او اوږدو پروژو له پاره په افغانستان کی دیوه قانونی حکومت اوبهرنیو موسسو ترمنځ توافق ته اړتیا ده

هغه سیمي چي نن دیوه تنظیم له خوا اداره کیږي ددي معني نلري چي سبا به دبل تنظیم په لاس نه لویږي



جلال آباد - دکب ١٦ مه :
دحزب اسلامي افغانستان دارشاد او فرهنگ رئیس اودحزب ویندوي استاد قریب الرحمن «سعید» پرون په جلال آبادکي دشهادت له خبریال سره دیوي مرکي په ترڅ کي دچمن اوتورغونډي ترمینځ دسړک دترمیم په باب وویل : موږ دافغانستان دسړکونو داعمارپه هکله ددوستوهیوادو دتعاون دوړاندیزمننون یو، افغانستان وران اوویجاړهیواد دي چي ددوستانوهرډول مرستي ته اړتیالري . پاکستان چي دچمن اوتورغونډي ترمینځ دسړك دترمیم کسوم اعلان کړي، دادقدروړدي افغانستان دي ته اړتیالري چي سړکونه دي بي جوړشي نهرونه دي بي آبادشي اوپه خپلوپښودي ودریږي ، دسړکونو او پلونوتعمیر، دزراعتي سکتور
(٤)مخ

الهی لارښوونی

دالله داکرنلاره نده چی خلك له هدایت وروکولو نه وروسته بیرته په گمراهی کی اخته کړی ترڅوپوری چی هغوته په داگه څرگنده نه شی چی هغوی باید کوموشیانو څخه ځان وژغوری .بیه حقیقت کی الله دهرشی علم لري . او داهم واقعیت دی چی دآسمانونواوځمکی سلطنت دهماغه الله په لاس کی دی، اوستاسی هیڅ داسی ملاتړاومرستندوی نشته چی تاسی له هغه نه وژغورلی شی.
(التوبه - ١١٥ - ١١٦)

سلسله تشنج و اعتصاب دربنگله دیش ادامه دارد

داکه - ١٦ حوت :
احزاب عمده مخالف دولت بنگله دیش یکباردیگر روزگذشته درداکه دست به اعتصاب زدند.
براساس گزارشهابرپاني این اعتصاب
ص(٤)

رباني رئيس اداره کابل ایران را ترك ، واردترکمنستان شد

وی امروز بعد از دیدار باسران ترکمنستان واردتاجکستان می شود

تهران - ١٦ حوت :
رباني رئیس اداره کابل درجریان سفر خود به کشورهاي آسیاي میانه صبح دیروز ازمشهد وارد ترکمنستان شد.
وي شب گذشته ازتهران جهت دیداربابرخي ازافغانان به شهر مشهد ایران رفته بود.
رباني پس ازدیدارو ملاقات باسران دولت ترکمنستان عصرامروز وارد دوشنبه
ص (٤)

نیروهای اداره کابل درشهرکندز :

دست به خلع سلاح افراد گروه های مخالف زده است

کندز - ١٦ حوت :
خلع سلاح نیروهاي مخالف اداره کابل درشهرکندز آغاز شده همچنان ادامه دارد.
براساس راپورهاي رسیده ازولایت کندز بعدازاینکه چندبارمیان حامیان اداره
ص (٤)

براي تهیه گزارش از پنجمین دورانتخابات درایران

بیش از (١٠٠) خبرنگار، عکاس و فلمبردار وارد این کشور گردید

تهران - ١٦ حوت :
بیش ازیکصدتن خبرنگار،عکاس، فلمبرداروگزارشگر ازکشورهاي مختلف جهان جهت شرکت پنجمین دور انتخابات مجلس شوراي اسلامي وارد ایران شده
ص(٤)

دملی اسلامی محاذ مشر پیرسیداحمدگیلانی دیوی مرکی په ترځ کی :

په افغانستان کی اوس سیستم وران دی ، ترڅو سیستم جوړ نکړو دسړك جوړول فایده نلری

خلك داشك کوی چی دپاکستان دمرستو هدف خپل تجارت ته لاره پیدا کول وو

پاکستان زمونږ نژدی گاونډی دی ، مبادا زمونږ اړیکی ورسره خرابی شی

لومړی باید داسی حکومت جوړشی چی دافغانستان اکثریت خلکو ته دمنلو وړوی اوقانونی بنه ولری

پیښور - دکب ١٦ مه :
دپاکستان حکومت دوروستي پریکړي له مخې به له چمن نه ترتورغنډي پوري سړك د ١٥٠ میلونوکلدارو په بدل کي ترمیم شي .
دپاکستان دحکومت ددي پریکړي په اړوند د افغانستان دمخورو سیاسي، اجتماعي شخصیتونو او دتنظیمونو مشرانو دخپلونظرياتوڅرگندوني کړي دي. دهیوادله دغوشخصیتونوڅخه یوهم دملي اسلامي محاذ مشرپیرسیداحمدګیلاني » دي.
نوموړي دپاکستان ددي پریکړي په باب په پیښور کي د « بي بي سي » رادیو له خبریال رحیم الله یوسفزي سره دیوي مرکي په ترڅ کي خپل نظرداسي وړاندي کړ : موږ خوهیش دخپلوگاونډي ملکونوڅخه دااميدلروچي له موږ سره مرسته وکړي اوداوران افغانستان آباد کړي ، لاکن غواړوچي. تنها دسړك جوړول نه وي بلکه بایدخپله سیستم چي دي باید جوړشي ، متاسفانه چي اوس په افغانستان کي سیستم وران دي، ترڅوچي سیستم جوړنه کړو دسړك جوړول فایده په ونه کړي اونوري به شخړي زیاتي کړي اودافغانستان خلکوته به شك پیداکړي چي پاکستان چي له موږسره دومره کاروته کړي، موږ سره محبت ئې کړي داخوارلس کاله جهادکي دازموږ مهاجرین، دلتول فقط مقصد داؤ چي خپل تجارت ته لاره پیداکړي .
پوښتنه : څه خلك داوائي چي دا
(٤)مخ

قاضي حسین احمد امیر جماعت اسلامي پاکستان طي سخناني :

غرب از پاکستان بحیث وسیله یی برای جلوگیری صلح درافغانستان استفاده می کند

مردم افغانستان بیش ازهرچیز دیگری به صلح ضرورت دارند

پشاور - ١٦ حوت :
قاضي حسین احمد امیرجماعت اسلامي پاکستان طي سخناني درپشاور گفت : قدرت هاي غربي از پاکستان بحیث وسیله ئي براي جلوگیري ازبرگشت صلح در افغانستان استفاده میکنند .
وي افزود کشورهاي غربي باتشکیل بلوك اقتصادي درمنطقه مخالف هستند وازپاکستان به عنوان وسیله ئي دربن راه هابهره میجویند .
امیرجماعت اسلامي گفت : اعاده
ص (٤)

په کویته کی د طالبانو ویاند مفتی "معصوم افغانی" له شهادت سره په مرکه کی :

دسړك په باب له پاکستان سره یواځی مقدماتی خبری شوی ،مثبت یا منفی ځواب مونږ نه دی ورکړی

ایران ، هند او روسیه دبیلا بیلو عواملوپربنا نه غواړی دا پروسه ترسره شی

طالبانو نه مخکی دبهرنی مداخلی اجازه ورکړی او نه به یی وروسته ورکړی

دطالبانو غورځنگ او دمشرقی شورا ترمنځ ښی اړیکی دی ، پرجلال اباد دبرید قصد نلرو

په هیواد کی د امنیت اوشرعی نظام د نفاذ لپاره که څوك عملی گام واخلی مونږ ورسره مذاکراتو ته تیاریو

کویته - دکب ١٦ مه :
په کویته کي دطالبانودغورځنگ یوه ویاندمفتي معصوم افغاني تیره شپه دیوي تیلفوني مرکي په ترڅ کي دشهادت خبریال ته دچمن اوتورغونډي ترمینځ دسړك دبیاجوړوني په هکله دپاکستان داعلان په اړوند وویل: لومړي خبر خوداده چي په دي مسئله کي دي ولایاتوته دطالبانو ترراتګ مخکي دپاکستان هیئتو نه راغلي، اوددي ولایاتودواکمني انتظامیي سره یې خبري کړي دي. مونږ دسړك په ارتباط له پاکستان سره یوازي مقدماتي خبري کړي دي " مثبت یامنفي ځواب موندي ورکړي. پدي باب بشپړترون هغه وخت ترسره کیداي شي چي زمونږ په هیواد کي یوقوي او مستحکم حکومت مینځ ته راشي.
معصوم افغاني وویل : هند، ایران
(٤)مخ

دنظارشورامرستیال داکتر عبدالرحمن له شهادت سره په مرکه کی :

دافغانستان دولت اوملت به ډیر ژر دپاکستان ددی مداخلی په وړاندی خپل عکس العمل وښیی

پاکستان باید له هوش او فکر څخه کارواخلی که نه نو دا اور به دوی ته هم وراوړدشی

جلال آباد - دکب ١٦ مه :
دنظارشورامرستیال اوکابل اداري دسولي دهیئت غړي داکترعبدالرحمن پرون په جلال آبادکي دشهادت خبریال ته دچمن - تورغونډي دسړك دترمیم په اړوند وویل : دپاکستان حکومت دافغانستان په چارو کي مداخله کوي ، دا حرکت چي ئې پاکستان کړي دافغانستان په خاوره اوارضي تمامیت باندي بربنډ ډول مداخله ده .
داکترعبدالرحمن وویل : زه یوځل
(٤)مخ

افغانستان ، تشنه آرامش

ص (٣)

اخی انت حر وراء السرور : الفواد - کرانه غربی : یکی ازعساکر رژیم صهیونست ، روز سه شنبه درکمپ مهاجرین فلسطینی الفراد درنزدیکی شهر هبدرون ، دست یکی از فلسطینیان مظنون به شرکت دربمب گزاریهای اخیردرشهرهای تحت اشغال صهیونیزم ، را می بندد، درمدت حدود ده روز گذشته بالغ برشصت تن اسرائیلی در بن بمب گزاریها جان خودرااز دست داده اند.

شهرېمبئي صحنه تظاهرات برضد زوابرباقیمانده انگلیس بود

دهلي جدید - ١٦ حوت :
شهرېمبئي درهند دیروزصحنه تظاهرات جمعي ازمردم برضد زوائر باقیمانده از استعمارانگلیس بود .
براساس گزارش خبرگزاري فرانسه مانوهرتوشي رهبرحزب «شیواسنا» از هواداران خودخواسته است تمام آثارویقایاي استعمار برطانیه رادرین شهرازبین ببرند .
براساس این گزارش طي مراسمي دربمبي نام قدیمي ترین ایستگاه راه آهن این شهرازویکتوریابه سیواجي تغییریافت.

دمشرقی شورا مرستیال اودکتر دشورا رئیس مولوی رحمت الله :

جهادی مشران دی دخبرو اترو له لاری دملت په خوښه یوقوی مرکزی حکومت جوړکړی

جلال آباد - دکب ١٦ مه :
دمشرقي شورامرستیال اودکنترولایت دشورا رئیس مولوي رحمت الله شهادت ته وویل : دمشرقي شورا فیصله داده چي موږ هیڅ چاته اجازه نه ورکوو چي په مشرقي کي سوله ایز ژوند گډوډکړي ، او که له چاسره داډکرهم پیداشي نوقوي گذاریه وخوري .
مولوي رحمت الله وویل: ترڅوچي په افغانستان کي مرکزي قوي حکومت نه وي جوړترڅني بنه مشرقي ولایتونه په همدي بنه پاتي وي .
نوموړي دیوي پوښتني په ځواب کي وویل جهادي مشران دي دخبرواترو اوتفاهم له
(٤)مځ

نیروهاي امنیتي الجزایر طي چند روز اخیر

٢٩ نفرمبارز مسلمان آنکشور رابه شهادت رسانیدند

الجزیره - ١٦ حوت :
نیروهاي امنیتي الجزایرطي چند روزاخیربابورش بـه محل استقرار انقلابیون اینکشور٢٩ تن ازآنان رابه شهادت رسانده اند .
براساس گزارش خبرگزاري آلمان دربیانیه ئي که نیروهاي امنیتي الجزایر انتشار داده اند دربـن عملیات تعدادي سلاح خفیف ، ودوقبضه راکت اندازنیز کشف شده است .

ترفندهای استعماری کمپنی های ویلز ،کوکولا وپیپسی

بازهم درباره "کرکت !"

* به این ارتباط مطلبی درسرمقاله مطالعه بفرمائید

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مسئول : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر : محمد نذیره«بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تیلفون : ۲۵٦۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

هدف از مذاکرات پاسران اداره کابل :

ابقاء اداره ء کابل یا حل بحران ؟

حامد

پخش شایعات و سپس اخبار و گزارشهای مبنی بر امکان حصول توافق میان سران اداره، کابل و شورای همآهنگی سؤالات متعددی در اذهان پدید آورد.

درین باب که اصل هدف از انجام این مذاکرات و وصول به این نوع توافقات چیست، دیدگاههای گوناگونی وجود دارد.

عده ای معتقدند پس از آنکه طالبان از فتح کابل عاجز آمدند و قضیه از لحاظ نظامی با بن بست مواجه شد، کاملاً طبیعی بود که امیدها به وصول توافق میان مخالفین اداره، کابل علی الخصوص جنبش اسلامی طالبان و شورای همآهنگی، بسته شود.

امید زیاد میرفت که مذاکرات بین این دو جناح منجر به تشکیل یك جبهه، مشترك نظامی جدید علیه اداره، کابل گردیده و در نتیجه، اقدام مشترك نظامی جبهه، جدید، نه تنها بن بست نظامی حاکم خواهد شکست، که سقوط اداره، کابل و آزادسازی مناطق تحت تسلط این اداره کشور را از بحران حاکم بیرون خواهد آورد.

انتشار اخبار مربوط به انعقاد پیمان سه جانبه میان جنبش اسلامی طالبان، شورای اسلامی ولایات مشرقی و شورای همآهنگی، این امید را باری دیگر در قلب و ذهن ملت ما احیاء کرد که عنقریب آفتاب صلح در افق ظلمانی افغان زمین طالع خواهد گردید. نطاقان طالبان بر اساس دلائلی نه تنها از انعقاد پیمان، که از انجام چنین مذاکراتی نیز انکار کردند.

شورای همآهنگی با این امید و با این هدف، پیشنهاد مذاکرات را ازجانب سران اداره، کابل پذیرفته اند که بر راه حل مسالمت آمیزی جهت نجات کشور از بحران حاکم، توافق صورت گیرد.
از دیدگاه ما، حد اقل دست آورد این پروسه این خواهد بود که تغییری در اوضاع بوجود آمده و بن بست حاکم بر فضای سیاسی-نظامی کشور رفع گردد.

اما، محترم ملا محمد عمر آخند رهبر جنبش اسلامی طالبان طی مصاحبه ای ضمن تأیید اخبار مربوط به انجام مذاکرات، گزارشهای مشعر بر انجام معاهده را عاری از حقیقت خواند. علی الرغم انتظار همگان و برخلاف وعده، بعضی از سران شورای همآهنگی، متن چنین معاهده ای افشا، نگردید، ولی شواهد و قرائن دال بر آن بود که چنین امری متحقق گردیده است.

مدتی در حالت انتظار سپری گردید و سر انجام این امید نیز به یأس مبدل گردید و کشور باری دیگر در بن بست سیاسی قرارگرفت.

همانگونه که انتظار میرفت شایعات مربوط به وصول توافق میان شورای همآهنگی و سران اداره، کابل، خیلی زود دهان به دهان گشته و به اساسی برای تبصره ها و تحلیها، مبدل شد.

با گذشت هر روز این شایعات قوت گرفته و بالآخره اخبار مربوط به آن در رسانه های جمعی تحت کنترول طرفین نیز انعکاس یافت.

طوریکه در گذشته ها نیز ملت آگاه ما، شاهد بوده است، سران طرفین از طرفی در مصاحبه با نشریات داخلی اخبار مربوط به این توافق را «شایعه» و «بی اساس» میخواندند، و از طرف دیگر، همچون گذشته ها در افشا، و با صطلاح لیك آن به مطبوعات خارجی نمیتوانستند بیتابی خود را مهار و کتمان کنند.

طوریکه تذکر رفت همزمان با پخش اخبار مبنی بر امکان وصول توافق که «بزرگان» ما آنرا «شایعه» و «بی اساس» میخوانند، سؤالات متعددی در اذهان پدید آمده و نیز پدید آورده شد، از جمله اینکه هدف اصلی از انجام این مذاکرات چیست.

در پاسخ به این سؤال عمده از دیدگاههای مختلف، اینگونه اظهار نظر میشود:

۱- این دو جناح، علی الخصوص سران اداره، کابل دریافته اند که طالبان و دوستانشان مصمم به اسقاط اداره، کابل هستند.-لذا، تنها راه بقای خود را در تفاهم با شورای همآهنگی می بینند. صرفاً با تفاهم و ائتلاف با شورای هماهنگی است که سران اداره، کابل میتوانند خود را از دم تیغ طالب برهانند.

۲- سران اداره، کابل، به منظور جلوگیری از تشکیل جبهه، مشترك سیاسی-نظامی متشکل از مخالفین اداره،

عده ای معتقدند پس از آنکه طالبان از فتح کابل عاجز آمدند و قضیه از لحاظ نظامی با بن بست مواجه شد، کاملاً طبیعی بود که امیدها به وصول توافق میان مخالفین اداره، کابل علی الخصوص جنبش اسلامی طالبان و شورای همآهنگی، بسته شود.
امید زیاد میرفت که مذاکرات بین این دو جناح منجر به تشکیل یك جبهه، مشترك نظامی جدید علیه اداره، کابل گردیده و در نتیجه، اقدام مشترك نظامی جبهه، جدید، نه تنها بن بست نظامی حاکم خواهد شکست، که سقوط اداره، کابل و آزادسازی مناطق تحت تسلط این اداره کشور را از بحران حاکم بیرون خواهد آورد.

کابل، وانمود میکنند که وارد مذاکرات جدی با اقلاً یك جناح از مخالفین یعنی شورای همآهنگی شده اند. سران اداره، کابل درین مذاکرات شاید جدی به نظر برسند، اما به هیچ وجهی صادق نیستند.

۳- عدم موفقیت سران اداره، کابل در توسیع بنیاد اداره، شان، از حمایت خارجی ایکه ازین اداره صورت میگرفت، بشدت کاسته است. همین امر موجب شده است تا زمامداران اداره، کابل وانمود کنند که بن بست سیاسی را شکسته و با یکی از دو جناح نظامی مخالفین در آستانه، وصول به توافق قرار دارند.

از آنجاییکه حیات این اداره به پیمانه، خیلی زیادی به کمکهای خارجی وابسته است، سران اداره، کابل، صرف یك تماس را نیز «تفاهم» و «توافق» جلوه میدهند.

٤- پس از آنکه سران اداره، کابل دریافتند که قوای وابسته به اداره، کابل به تنهایی از عهده، مقابله، با طالبان بر نخواهند آمد، حاضر شدند امتیازاتی به شورای همآهنگی بدهند تا بدین وسیله بتوانند آنانرا در برابر ضرب طالب «بلا گردان» خود بسازند. پس از آنکه خطر طالبان دفع یا تعدیل گردید روز از نو، روزی ازنو! ویرانه های این کشور باری دیگر صحنه زور آزمایی این دو جناح خواهند بود.

۵- سران شورا ی همآهنگی پس از آنکه از حصول توافق با طالبان مأیوس شدند و یقین کردند که طالبان نه تنها با آنان به توافق نمیرسند، که پس ازسقوط اداره، کابل، به سراغ آنان نیز خواهند آمد، تنها راه و چاره را در پذیرش درخواستهای مکرر، لاینقطع و متزاید سران اداره، کابل مبنی بر انجام «دیالوگ مخلصانه جهت حل بحران» یافته اند.

۶- ابقاء استاد ربانی در رأس اداره، با صطلاح جدید و علی الخصوص اختصاص عهده، وزارت دفاع به انجنیر مسعود، خود از نیات قلبی سران اداره، کابل و محافل خارجی حامی این اداره ..ده برمیدارد که مصمم اند حاکمیت انحصاری بعضی از عناصر در هرنوع رفورم صوری نیز محفوظ باشد.

۷- تقسیم مناصب کلیدی اداره، موقت بین دو یا سه جناح قوی، یعنی همان آش و همان کاسه: یعنی شمولیت عده ای از گروهها در اداره، حاکم بر کابل و شمولیت عده ای دیگر از گروهها در یك جبهه، مشترك نظامی و ادامه، جنگتا مدتی دیگر یعنی ویرانی بیشتر کشور، تباهی بیشترملت و ایجاد زمینه های بیشتر برای مداخلات بیگانگان در اموداخلی ما.

۸- اصلاً محافل بیرونی دریافته اند که طالبان و اداره، کابل نشاط ریختن خون همدیگر را ازدست داده اند. لذا، زمینه را برای تشکیل ائتلافها و جبهات جدید آماده ساختند تا جنگ برای چند روزی دیگر درین سرزمین ادامه یابد تا آخرین محورهای مقاومت در برابر طرحهای بیگانگان درین کشور و درین مردم از میان برداشته شده و سرتاسر افغانستان برای خرتازی همسایگان و قدرتهای منطقوی و جهانی، آماده باشد.

فوقاً بخشی از دیدگاههای مخالفین و منتقدین پروسه، مذاکرات فی مابین سران اداره، کابل و شورای همآهنگی، بصورت اجمالی ذکر گردید. تاجاییکه ما میدانیم حزب اسلامی و شورای همآهنگی مذاکرات فعلی را به منظور حفظ وضع موجود، حفظ حاکمیت انحصاری بر کشور، حذف کدام جناح، زمینه سازی برای آغاز دور جدیدی از جنگهای نه آغاز کرده است و نه ادامه میدهد.

سران شورا ی همآهنگی پس از آنکه از حصول توافق با طالبان مأیوس شدند و یقین کردند که طالبان نه تنها با آنان به توافق نمیرسند، که پس ازسقوط اداره، کابل، به سراغ آنان نیز خواهند آمد، تنها راه و چاره را در پذیرش درخواستهای مکرر، لاینقطع و متزاید سران اداره، کابل مبنی بر انجام «دیالوگ مخلصانه جهت حل بحران» یافته اند.

شورای همآهنگی با این امید و با این هدف، پیشنهاد مذاکرات را ازجانب سران اداره، کابل پذیرفته اند که بر راه حل مسالمت آمیزی جهت نجات کشور از بحران حاکم، توافق صورت گیرد.

از دیدگاه ما، حد اقل دست آورد این پروسه این خواهد بود که تغییری در اوضاع بوجود آمده و بن بست حاکم بر فضای سیاسی-نظامی کشور رفع گردد.

باامید تحقق این آرزو!

بازهم درباره کرکت !

برنامه خوردساختن و شایق نشان دادن شخصیت های یک کشوردربرابر فرآورده های سیاسی واقتصادی استعمار

درسرمقاله روزیکشنبه ۱۵ حوت به ارتباط مسابقات جهانی کرکت مطلبی داشتیم و یادآوری نمودیم که مقصد نهایی این بازیها، تقویت ورزش وورزشکاران نیست .

مرام ازتبلیغات بی حد روی کرکت ، و خاك زدن درچشم مردم وغافل کردن آنهاازدرد ها، مشکلات ونیازهای اصلی واولی اجتماعات شان می باشد .

به تعبیردیگر، درفرهنگ استعمار وتهاجم فرهنگی استعمار «بازی» معنی « ورزش» رانمیدهد ، بازی به مفهوم «فریب» فتنه ومعتاد کردن ودرعنان آوردن جهت ذهنی وفکری مردم افاده میشود، هرپدیده اجتماعی که بطرف منفی جهت داده شود ومرام ومطلب سوء درآن جابگیرد، مورد توجه محافل شیطانی وکفری است وبه میزان گنجایش قوت فریبندگی روی آن پدیده،تبلیغ وتاکید صورت میگیرد .

درینجا بیك مورد بسیارمشهوریکه دستگاه های شیطانی درلابلای بلندساختن تبلیغات کرکت، مرام خودرا به خورد مردم میدهند اشاره میکنیم ونحوه کارشبکه های کفری و استکبارجهانی راکه برای تسخیراذهان مردم انجام میدهند یادآورمیشویم .

توجه کرده باشیدکه درخلال مسابقات کرکت کمپنی های بین المللی که سرنخ واداره آن دردست استکبار وجهان غرب است و ملیونهاکلداریمصرف میرسانند، مثلاً ازجمله کمپنی سگرت «ویلز» رادرنظربگیرید. این کمپنی تقریباً کلیه مصارف ومخارج مسابقات جهانی کرکت را متحمل شده است واین درحالیست که بازارفروش سگرت ویلز بخاطربلند بودن پول تکس وارزان بودن سگرت های محلی وداخلی پاکستان شاید ده هاوصدهابار پائینتر ازمصارف گزافی باشدکه این سگرت درقبال مسابقات جهان کرکت وتبلیغات آن متحمل میشود. اما سگرت ویلز یك نام بسیارمشهوروشایدهم سنگین برای این مردم است. چونکه وزرا وشخصیت های پاکستانی دردعوت های آن ودرمراسم اعطای تحایف وجوایزآن باافتخارتمام شرکت میکنند .

هدف عمده وعمومی شبکه های استکبارغرب خوردساختن وشایق نشاندادن شخصیتهاوافراد یك کشوربه دستاوردها، به کلمات وبه فراورده های تجارتی وسیاسی کفری وشیطانی میباشد.

· درین سلسله کارها و عملیات تبلیغاتی کمپنی مشهوربین المللی کوکاکولاوپیپسی بیشترجالب می باشد . امابیائید قبل ازین ، یك قضیه تقریباً تاریخی راکه به موضوع بحث مابی ارتباط نیست ازنظربگذارانید .

شنیده بودیم که درقدیم ، انگلیس ها بعضی افراد معتمد خودرا درهند برتانوی صاحب املاك نموده وبعدآنهارا به کارهای مثل خانه سامانی ، حاضرباشی وخدمات دیگرخود می گماشتند . ازقدیم نشانه وعلامت خان ها وزمین دار های کلان « جغه » ویا «شمله» بلند بود، لذا انگریزها تجویزکردند که تمام خدمت گاران ونوکران خاصه انگریزها پیراهن وتنبان باشمله بلند داشته باشند. که این رسم تاحالا نیزدر ادارات تشریفاتی واداری هندوپاکستان باقی مانده است . انگلیس ها به این ترتیب افرادی رابه شهرت ووجاهت میرساندند و بعدبخاطراینکه مردم راتحت تاثیر خود داشته باشند، این افراد رابه نوکری وچاکری خود مامور میکردند تامردم «خواص» وشهرت یافته های خودرا درخدمت انگلیس ها ببینند وجرئت مخالفت وتکلیف مقاومت دربرابر انگلیس هارا ازسربیرون نمایند . اگرهمین شیوه ها وترفندهای استعماری نبود ، اداره وتسلط چیزی کم دوصدسال هند، برای انگلیس ها ناممکن میشد .

گفتیم ترفندهاونقشه های و استعمارنوین « تغییرخورده است . حالا ببینیدکه بنام تبلیغات کوکاکولا، پیپسی وکرکت چگونه اهداف جدید استعماری رادرقالب ترفندهای تازه ، پیاده میکند وچگونه اذهان مردم رابطرف خودمهار میسازد . مثل همان قدیم قهرمان وشخصیت هایی میسازندوبعدچگونه این شخصیت هارا در پای ارزش های خورد وساده استعماری پائین می آورند .

دریك اعلان پیپسی ابتدا وسیم اکرم بازیگرکرکت به حیث یك هیرویك اسم پرجلال درپاکستان توصیف میگردد. بعد همین وسیم اکرم برای گرفتن یك بوتل پیپسی خودراخم میکند ودست نیازبه طفلی درازمینماید ، تازه طفل هم خواهش اورا قبول نمیکند واعطای بوتل پیپسی را مشروط به لقب قهرمانی جهانی کرکت میگذارد .

دراعلان دیگر«انضمام الحق » ورزشکاردیگر بشکل یك قهرمان ملی پاکستان معرفی میگردد ولی این قهرمان ملی‌را وقتی موتر حامل پیپسی رامی بیند ازپنجصدمترزادوردنبال پیپسی میدود. معلوم است وقتی مردم قهرمان های ملی خودرا مشتاق وگرویده یك محصول خارجی ببینند وقتی تلویزیون واخباردر ودیوار خودرا انباشته ازتبلیغات ومدح وثنای نام هاوفراورده های استعماری میابند دیگر واضح است که برای پذیرش فراورده های سیاسی واقتصادی استکبار رفته رفته خومیگیرند ومخالفت ومقاومت خودرا ازدست میدهند .

لاسوهنه !!

مغموم

خبرونه وائی چی پاکستان به له چمن نه ترتورغندی پوری سرك جوړوی چی د دو کالو په موده کی به بشپړ شی ، ددی پروژی سرپرستی به داسی ښکاری چی د پاکستان د کورنیو چارو د وزیر ښاغلی نصیرالله بابر صاحب په غاړه وی .

عجیبه خو دا ده چی د کابل اداری چارواکو په دی کار د پاکستان پرخلاف اعتراض کړی دی او دوی ئی دهیواد په چاروکی مداخله بولی ، د دی اعتراض بو دلیل ښایی د ادی چی موږ اصلاً له ورائی سره روږدی یو له جوړولو سره حساسیت لرو اودکابل چارواکی که اعتراض کوی نوطبعاً د یو بی بنیاده تور اوعکس العمل ښه لری ځکه چی د دوی او پاکستانی مقاماتو په اصطلاح «خره په یوه ورشو کی نه ځری».

د دوی په عکس العمل او اعتراض نړیوال ښایی څه حساب ونه کړی اوباید ویی نه کړی،نوځوك خو بیا داسی د دوستی خلاف غږ اوچتوی نه،آخر ځوك به دومره محسن کش ! او نمك حرام اشی چی د نصیرالله بابرصاحب او یا پاکستان غوندی دولت په دوستی کی شك وکړی !!!

په دی کی کـه چاته شك وی چی ولی د کورنیو چارو وزیر ددی پروژی سر پرست دی ؟ نو په ځوا ب کی باید و وابو چی دی اعتراض ته خو ځکه ځای نشته چی د کورنیو چارو ! خو معنی هم دا ده چی هغه باید زموږ کورنیو چارو کی د پروژو سرپرست وی ، که د دفاع وزارت خبره وای بیایی بوځه غلط تعبیر کیدای شوای .

خپی جنابان به دبین الدول دحقوقوپه لایحو او قرارداد ونو حواله ورکوی اوادعا به کړی چی خدای (ج) مه کړه گنی زموږ په هیواد کی د پاکستان دغه دخیر اوبرکت !! نه ډك کار به لاسوهنه وی ، خو دا ټول هسی بی ځایه او بی مورده اندیښنی اوخیالونه دی چی هیڅ بنیاد نه لری .

پاکستان له موږ سره همدردي لری - ډیره همدردی لری او ددی همدردی سل اوزرمثالونه ئی شته چی یو یی پخپله دهمدی لاری ترمیم او جوړول دی .

له تکبیره ترفریاده

آخر دوی داکار پخپل مصرف - پخپله رضـا - او د خپلو لومړی درجه دولتی چارو اکوتر سرپرستی لاندی کوی ، دخلوص په نورترډی پورته دلیل اوثبوت څه وی چی نصیرالله بابرصیب پخپله ښه مصروف بنیادم دی له زرگونو داکوانو - غلو او سیاسی مخالفینو سره لاس او گریوان دی . د کراچی ، سند او پنجاب لانجی ور دغاری دی خو هغه ټول پریږدی ما اوتا ته لاری جوړوی ، مصرف اوخرڅ خوراك ئی له ځانه دی - حتی چی زموږ بوشمیر مفلس طالب صاحبان به ئی د کار گری او مزدوری وپارهم ترلاسه کړی .

پردی علاوه دا هم د خلوص او لوریتی ترټولو ښه او غوره دلیل دی چی دوی په داسی مهال او حالت کی دا کار پیلوی چی زموږ په هیواد کی نه مرکزی حکومت شته اونه محلی اداری اوانتظام .

د دوی د رحم ! او کرم ! سمندر دومره په څپو شویدی چی د قانونی او مرکزی حکومت ترقیام پوری څند او صبر ورته جرم ښکاری .

خو خدای (ج) دی د کابل د چارو واکو عقل سرته ورولی،وگوره دومره لوی اخلاص ته ئی په شك وکتل ... هغوی هم خیردی خو تور داسی کوم لیونی را پیدا نه شی او زموږ د اولس د خوا - خوږو په خواخوږی ونه خاندی.

د پاکستان د دی اقدام پرخلاف اعتراض او احتجاج خو ډیر بی ځایه او لیونتوب سل ځله دی اوکه ځوك پری خفه کیږی نه نوماته د دوی پردی اتهام اعتراض اصلاً د پاکستان په کورنیو چاروا کی لاسوهنه ښکاری .

ځکه چی یو خو دا د دوی د کورنیو چارو د وزارت په صلاحیتونو اوحدودو اعتراض دی اوبل دا چی د پاکستان د گټو اومصالحو پرخلاف اعتراض دی . موږ کله دا حق لرو چی د نورو د گټو او مصلحتونو پرخلاف غږاوچت کړو .

طبعاً د یوه هیواد دگټو ! پرخلاف اعتراض پخپله د هغه هیواد په چارو کی لاسوهنه او مداخله بلل کیږی آخر پاکستان د یو ، مستقل هیواد په حیث دا حق لری چی د خپلو صادراتو لپاره بازارونه ولری اوهغو بازارونو ته لاری ولری . خپلو فابریکو ته خام مواد راوړی او دا کار طبیعی ده چی په نقل او انتقال کیږی او دغه نقل او انتقال بیا لارو او سرکونو ته اړه لری . نو دا د پاکستان مسلم حق دی چی مرکزی آسیا ته لاره ولری .که په دی لاره له یوی اوبلی خوا «کبار»بوړه شوتو نورعلی نو ر او که ....خو خیر خبره مو د پاکستان د نیك ! او کارخیر د پیل په اړه وه چی د کابل اداری اعتراض بالکل د دوی په کورنیو ! چارو کی مداخله ده .

چی له دی پرته نه بل تعبیرلری اونه بل مفهوم . اوبه دی کی خو هیڅ شك نشته چی پاکستانی چارواکی زموږ سره دومره خو اخوږی ! او همدردی! لری چی ساری بی نشی موندل کیدای بیا په دوی کی نصیرالله بابرصیب او آصف احمد علی صاحب خوهسی په نامه پاکستان ته منسوب دی نورئی غم او هم - مصروفیت اوناسته پاسته ټول له «موږ!» سره ده او زموږ په غم کی سرگردان او ستومانه دی . دوی دی هم زموږ د یونیم لیونی ! په څه اعتراض اوشکایت خـرانه بدوی ، نور موږ ټول د دوی یو اوهرډول خدمت ته لاس په نامه ولاړ !!!

موږ که باغیان اوغلك حرام ! لروتو ډیر بیا نورداسی غلك حلال خدمتگاران هم لرو چی په خپلو خدمتونو او اخلاص د ځو بدمغزه لیونیو ! د بغاوت‌اجبیره کولی شی او په سه توگه ئی کولی شی ، نوځکه خو وابو چی دوستان دی خوا نه بدوی !!.

خلاء دیپلوماسی امریکا درچین و روسیه

تنش بین واشنگتن و پیکنگ وعدم اطمینان نسبت به جهت گیري سیاسي مسکو، دشواریهاي بلکلنتن رئیس جمهوري امریکا رادردوصحنه مهم ازدیپلماسي امریکا نشان مي دهد. دولت امریکا درمورد اینکه آیا مجازاتهاي اقتصادي را برضدپیکنگ براي فروش پنج هزارحلقه مقناطیسي - یکي از اجزاي گریزازمرکزکه درغني سازي یورانیوم براي جنگ افزار هاي هسته اي مورد استفاده قرارمي گیرد ، بـه اجرا مي گذارد یانه، سکوت اختیارکرده است .

روزنامه هـاي امریکادرحالي این گزارش را منتشرکرده اند که دشمني فزاینده چین نسبت به تایوان که آنرا ولایت شورشي خود تلقي مي کند، ادامه دارد .

وضعیت این جزیره محوراصلي تازه ترین بحران بین واشنگتن و پیکنگ ازسال گذشته بشمارمي رود. بااین وجود کاخ سفیدروزپنجشنبه تصمیم گرفت تحریمهایي رالغوکند که از هنگام کشتار طرفداران دمکراسي درمیدان «تین ان من» درسال ۱۹۸۹ ازفروش چهار ماهواره امریکایي جلوگیري مي کرد .

«دیمیتري سایم» مدیر مرکز نیکسون براي صلح وآزادي»درباره کلینتن ودولتش مي گوید:« پس ازسه سال درقدرت آنان هنوز سیاستي براي چین ندارند .»

مبارزه قدرت کنوني درچین، که باعث افزایش نفوذ نظامیان شده است، بخشي ازمسایل کنوني راتشکیل مي دهد .

ولي برداشت حاکم برمحافل کارشناسي واشنگتن این است که ایالات متحده دروخامت اخیر روابط چین، امریکانقش بزرگي داشته ونقطه شروع آن، تصمیم کلنتن درماه مه گذشته به صدورویزابراي «لي تنگ هوئي » رئیس جمهوري تایوان بوده است .

«اسکات کندي» کارشناس چیني درانستیتوت بروکنیگزمي گوید:« مرغها براي سرخ شدن باپاي خود آمدند » ، انتقاد ها بیشترازفقدان اولویت هاي آشکاردر روابط امریکاباچین است.

سایزمي گوید واشنگتن داراي فهرستي ازاولویتهانیست . و تنهافهرستي ازخواسته هاي خـود را دارد باید ناراضیان را آزار ندهیم ،" باید تکنولوژي هسته اي صادرنکنیم ونباید تایوان راتهدید کنیم .

ازهنگام به قدرت رسیدن کلنتن روابط امریکا، چین رویه تیرگي نهاده است و این بحران سلسله وار ادامـه دارد . «سلیگ هاریسون» ازبنیادبین المللي صلح کارنگي بااشاره به تایوان مي گوید: ایالات متحده به چیزي که مشکل اصلي درروابطش باچین بوده وخواهد بودتوجه ندارد.

تنهادرچهارشنبه پیش بودکه کلنتن تاکید کرد: تنها یك چین وجود داردیعني تایوان بخشي ازچین است، اصلي که اساس روابط امریکا و چـین راتشکیل مي دهد،ولي پیکنگ بـه اقدامهاي امریکا مانند صدور ویزابراي «لي » وفروشهاي تسلیحاتي به تایوان، به عنوان نقض گفته هاي دلگرم کننده اش مي نگرد .

ازدیدگاه هاریسون انتقال تکنولوژي جنگ افزار هـاي هسته اي چین به پاکستان به تلافي سیاست امریکادرمورد تایوان صورت گرفته است .

هاریسون مي گوید پیام پیکنگ ساده است : اگر بامادرمورد مسائل مهم همکاري نکنید، ماهم درمورد چیزهایي که براي شما اهمیت دارد، یعني مبارزه بااشاعه سلاحهاي هسته اي کاري نخواهیم کرد.

به موازات تیرگي روابط امریکا - چین ، کاخ سفید نومیدانه شاهد متزلزل شدن اصلاحات سیاسي روسیه است .

کلنتن دراوائل دوره چهارساله اش ، روابط گرمي رابین روسیه وغرب ،به عنوان یکي ازدستاوردهاي بزرگ سیاست خارجي خود عرضه کرده بود. پس ازدل بستن کامل به بوریس یلتسین ،کاخ سفید اینك دریافته که فاقد یك سیاست روسي است . مشکلات عمیق واشنگتن باچین وروسیه درسال انتخابات ریاست جمهوري امریکاپدیدآمده است.

سایزمي گوید: «بدون یك بحران سیاست خارجي انتخابات ریاست جمهوري به مساله مبارزاتي مهمي تبدیل نخواهد شد.»

از روزنامه «کیهان» چاپ ایران

درهند نیمی از...

والدین به قتل دختران خود اقدام میکند.

بنا پردستور فرمانداریکی از ایالتهای جنوبی هند محلی برای جمع آوری نوزادان دختر ناخواسته اختصاص داده شده است تا ازقتل آنها جلوگیری شود .

این نوزادان با بودجه دولتی در دارالایتام نگهداری میشوند و دولت مسؤلیت آنها را به عهده میگیرد .

نظافت او پاکی ته د میرمنو توجه

نظافت او پاکي د هرچا خوښېږي ترڅو چه زموږ په سپېڅلي دين کي پاکي ته ډېر اهميت ورکړشوی .

د اسلام ستر پيغمبر حضرت محمد (ص) فرمايي چي پاکي د ايمان جزدی .

نوټولو مسلمانانو ته ښځي وی که نارینه ضروري ده چي په خپل و رځېني ژوند کي نظافت او پاکي مراعات کړي ، موږ په

خپل چاپېريال کي ډېري داسي ميرمني وينو چي کله غواړي په کوم واده اوياهم د خوشحالي په مجلس کي ګډ ون وکړي او پاهم خپلو دوستانو او خپلوانو کورونوته ځي نو ښکلي او پاکي جامې ، ګاڼې او زېوراچوري او آرايش کوي خو کله چه

بيادغه ميرمني خپل کورته راشي نو بيا نه خپلي پاکي ته توجه کوي اونه هم د خپل کور او ماشومانو نظافت په نظر کي نيسي . ممکن دغه ميرمني فکروکړي چي ځرنګه چه خاوند يې ورسره علاقه لري نوهغه د دي لباس او د کور نظافت ته متوجه نه دي پداسي حالکې چي واقعيت په بل ځه وي پاکي اوصفائي خو د هر چا خوښه ده ممکن

چي ميړه يې د خپلي ميرمني له دغه سلوك ځخه راضي نه وي نوپوهي ميرمني هغه دي چي دغي موضوع ته متوجه شي د کار او آشپزي په وخت کي د کار له جامو ځخه استفاده وکړي اوکله چي بيکاره شي نو بيادي د خپل ځان ماشومانو او کورنظافت ته متوجه شي .

دټولو مسلمانو ميرمنو وظيفه ده چي پواځي په خپل کور کي د خپل خاوند لپاره ځان سينګارکړي نه د پردو او نامحرمو نارينه وو لپاره په دي هکله زموږ ستر پيغمبر حضرت محمد (ص) داسي فرمايلي :

« په تاسوکي ترټولو غوره ښځي هغه ښځي دي چه د ميړه مطيع وي او دهغه لپاره ځان سينګار کړي او زينت يې پردو ته ښکاره نشي اوترټولو بدې ښځي هغه دي چي د ميړه په غيب کي زيب وزينت وکړي » نوهغه ميرمني چي د کورځخه بهر ډېر آرايش کوي او يا خوشبو عطرونه

استعمالوي او د پردو او نامحرمو په مخکښي بي حجابه ګرځي نو دغه شان ميرمني په حقيقت کي د خپلي کورني او نورو کورنيو د سلامتي اوعفت پښو ته ننوځي ، او پدي توګه د بلهوسه نارينه وو

لپاره د هغوی د خطرناکو هوسونو د پوره کولو زمينه برابر وي .

سرور کائنات حضرت محمد (ص) پدي هکله داسي فرمايي :

« هره ښځه چي خوشبويي استعمالوي اوله کورځخه وځي ترڅو چه کورته راشي نو دخداي له رحمت ځخه بي برخي ده » نو دغه شان ميرمني آيا پدي نپوهيږي چي د دوی دغه عمل به د امينو او عفيفو ښځو ژوند تريخ کړي ، اوپه نتيجه کي به د بلهوسه نارينه و د انحراف سبب وګرځي .

نو عزتمندو افغانو خويندو ځرنګه چي تاسي علاقه نلري چي ستاسو کورني ژوند تريخ شي نو کوښښ وکړي چي هميشه په

کورني کي پاکي اونظافت ته متوجه اوسي خپل ځان اوماشومان هميشه پاك وساتي اوکه چيري تاسو نظافت او پاکي ته توجه ونکړي ممکن چي ستاسو خاوندان د کورځخه بهر نوري پاکي اونظيفي ښځي وګوري نوبي د خپلي ميرمني سره مقايسه کوي ، او پدي ترتيب د خپل کورني ژوند ځخه مايوسه کيږي .

ښځه د کورني او ټولني په چاپېريال

متصدي : معصومه

زن در محيط خانواده وجامعه

په تيريسی

دګورني ارزښتونه په اسلام کې

نکاح : د نکاح په تړون سره ښځه اونارينه خپل ژوند شريکوي او پدي توګه د يو ی کورني د جوړښت اوتشکيل بنسټ ايږودل کېږي . نو داسلام په سپېڅلي دين کي د رضايت اوهمداشان د شرعي موانعو د نه درلودلو وروسته د ايجاب اوقبول لفظ د طرفينو په منځ کي هغه رکن دی چي په مجلس کي ايجاب د نجلي يا دهغې د وکيل لخوا لومړی صادريږي او وروسته د قبول لفظ چي داهم د هلك يا دهغه د وکيل لخوا ويل کيږي او د ايجاب اوقبول سره د نکاح او زوجيت صحيح کيږي .

په اصل کي ايجاب او قبول په خولي خبري دي که څوك خبري نشي کولی نو په ليکلوهم صحيح کيږي خو که څوك ليك نشي کولای نو اشاره روا ده خو پدي شرط چي د اشاري ځخه مطب اومقصد ښکاره وي . لازمي ده چي ايجاب اوقبول په يومجلس کي وي که ايجاب يو ځاي اوقبول بل ځاي وي نوپدي صورت نکاح صحيح نه ده د ايجاب او قبول په جريان بايدپوديل خبري واوري او پدي پوه شي او که چيري خبري نه اوريدل کيدی او يا ژبه بدله وه اونه پوهيږي چه مقابل لوري ځه وايي نو نکاح صحيح نه ده .

هسدارنګه د ايجاب اوقبول ترمنځ

بشپړ توافق ضروري دی . دحنفي مذهب په اساس ښځي ته دا نتخاب حق ورکړشوی پدي شرط چي هغه بالغه وي خپله ګټه او تاوان و پېژني د ښو او بدو تميز وکړی نوبي هيڅوك د خپلي خوښي په خلاف په نکاح کول نشي مجبوروولي .

پاك قرآن پدي هکله داسي فرمايي :

يعني « مه بند وي هغوی لدينه چه نکاح وکړي دويي خپلو خاوندانو سره کله چه راضي شي دوی خپل منځ کي د شريعت مطابق » « البقره : ۱۳۲ »

د نکاح شرطونه ځيني په هلك ، ځيني ونجلي اوبعضي هم د نکاح په صيغي پوره اړه لري

په ښځه کي شرطونه

دښځي په نکاح کي شرعي مانع نه وي يعني محرم نه وي

۲- سوچه وي يعني دا چه ځنثي نه وي .

۳- معلومه وي يعني نامعلومه نه وي .

- په نارينه پوري مربوط شرطونه

۱- اهليت ولري بالغ اوعاقل وي يعني ليوني نه وي .

۲- ښځه که مسلمانه وي نو نارينه هم بايد مسلمان وي .

۳- عقد کوونکي دواړه خو اوسي يو دبل خبري واوري او پري پوه شي .

بله مهمه مسئله چه اسلامي غوره شريعت نارينه ووته اجازه وکړي هغه د آسماني دين له پيروانو سره د نکاح موضوع ده لکه عيسويان او يهوديان خو هغوی چي آسماني دين نه لرلي نوله هغوی سره نکاح روانه ده .

خو دمسلماني ښځي لپاره روانه ده چي د کافر نارينه سره نکاح وکړي که ځه هم د کتاب خاوند وي لوی خدای په پاك قرآن کي داسي فرمايي :

يعني « په نکاح مه ورکوی مشرکانوته ولورګاني او خويندي خپلي » البقره : ۲۲۱ » بل ځاي داسي فرمايل شوي .

يعني « نه هغه مسلماني ښځي هغه کافرو سړيو ته حلالي دي نه هغه کافر سړي هغومسلمانو ښځو لره حلال دي » « الممتحنة ۱۰ »

دا چه د نارينه نکاح د کتابي ښځي سره رواشوي نوعلت يي دا دي چه ښځي د نارينه تراغيزي لاندي راځي اوکيدلای شي چه ښځه يادوېري له سببه اوياهم د ميني له کبله ايمان راوړي چه داسي ډېري ښځي موږ په خپله تولنه کي ليدلي چه د اسلام مقدس دين يي قبول کړي .

خو د مسلماني ښځي نکاح يي د کافر نارينه سره حرامه کړي ده اوعلت يي شايد داوي چه ترڅو مسلمانه ښځه د يو کافر د غيزي لاندي رانشي ترڅو له خپل دين نه منحرفه نشي .

د کورني له ارزښتونو ځخه په اسلام کي يو دا دي چي د نکاح د تړون له مخي ښځه د مهر مسکن او ارث مستحقه ګرځي .

حتي په مجرد د تړون ځخه مهرلازميږي . که چيري مهر د نکاح دتړون په وخت کي ټاکل شوي وي هماغه دي اوکه ټاکل شوي نه وي نو مهر لازميږي د نکاح د تړون له مخي د ښځي مسکن او د اوسيدوځاي معلوميږي اونفقه يي په خاوند لازمه ګرځي او د خاوند په مال کي د ارث مستحقه ګرځي « نوربيا »

دمور په هکله وجيزي

- هغه کورچي مور په کي نه وي هديري ته ورته دي .

- هرڅوك د انسانيت حقيقي تصوير د خپلي مور په څيره کي ليدلي شي .

- د دنيا يوه رشته هم له مورته خوږه نه دي .

- د آسمان ښکلي ، غوره او آخري تحفه مور ده د زړه نه دهغي قدر وکړي .

- ډيروخلکوخپله کاميابي د مور دعا ګڼلي ده .

- هغه مينه چي تاسي دخپل مور او پلارسره کوی نو مطمئن اوسي چي همدغه مينه به تاسي سره ستاسي اولاد کوي .

- دمور او پلار خدمت کول د جنت ضامن کيدی شي .

- دخدای پاك ترټولو غوره مخلوق مور ده چي د اولاد د ژوند جوړولای شي .

- مور دکور د ښائيست نه علاوه د کورني روح هم کيدی شي .

- د چا ځخه چي مور راضي وي او مورته په مينه غېږ کوي نو د ژوند ټولي خوشحالي به لاس ورتلای شي .

- دځلور څيزونوڅخه تل په امن کي اوسي :

الف - د مورپه مخکښي له ګستاخي ځخه

ب - د استاد له نافرماني ځخه

ت - دلالچي دوست له دوستي ځخه

ج- او د مظلوم له آه ځخه

درهند نيمي ازنوزادان دختر به قتل ميرسند

برخي ازخانواده هادربعضي ازمناطق جنوب هند به علت فقرمالي وتنګدستي عمدتاً نوزادان دختر را به قتل ميرسانند .

درمناطقي مانند «مادوراي» و«رجنوب هند دختران به عنوان يك بارمالي بردوش خانواده ها تلقي ميشوند . و در بدو تولد بوسيله والدين خود به قتل ميرسند .

